# پشه‌يي ژبه او د هغې لهجې

**ليکوال: څېړندوی فريدالله فرحان**[1]

**لنډيز**

په دې نړۍ کې خورا ډېر ژبې شتون لري چې د ځينو ځانګړو فکتورنو له امله لکه: چاپيريال، زمان، کډوالۍ، جنګونه او داسې نورو له امله خورا ډېر اغيزمن کېږي او په افغانستان کې هم ځينې ژبې د وخت په تېرېدا سره اغيزمن شوي دي په ځانګړې ډول پشه‌يي ژبه هم اغيزمنه شوېده. نو په همدې اساس ددې څېړنې بستيزه موخه د پشه‌يي ژبې او د هغې لهجې سپړل دي. ددې څېړنې ډول کيفي کتابتوني ده چې له مختلفو چاپي او انلاين سرچينو څخه معلومات د همدې څېړنې د پوښتنو په اساس راټول شوي دي په سر کې د پشه‌يي په اړه معلومات وړاندې شوي دي . ددې ژبې يادونه په معتبرو آثارو کې د بهاشه، پيشاچه، پيشاوي....، پشه‌يي او په نورو بڼو کې شوې دي او ترڅنګ يې دا هم روښانه شوې چې دا ژبه څومره يونکې لري؟ په څو لهجو خبرې کوي او په کومو سيمو کې کومې لهجې ويل کېږي؟ د لهجو ترمنځ ځينې فونيميکي توپيرونه روښانه او څرګنده شوي دي. يادې پوښتنې ددې څېړنې په ترڅ کې په تفصيلي ډول ځواب شي.

**کليدي ټکي**: پشه‌يي ژبه، لهجې، نفوس، فونيميکي توپيرونه

**سريزه**

پشه‌يي د يو قوم او افغاني ژبې نوم دی او دغه نوم د تاريخي کتابونو کې بهاشه، پيشاچه، پيشاوي ....، پشه‌يي او په نورو بڼو راغلی دی. د پشه‌يانو ژبه پشه‌يي ده، چې د آريک ژبو په کورنی کې د درديک(داردي) ژبو په مرکزي ځانګې پورې اړه لري. ننګرهار، کونړ، لغمان، کاپيسا، نورستان، او د کابل په پغمان، په سروبي او اوزبين کې ويونکي لري. داردي ژبې( چې په پشه‌يي کې د غرني او کوهستاني معنا ورکوي) د اندو-آريايي ژبو هغه برخه ده، چې د افغانستان د شمال شرق په غرني سېمو کې او يو شمېر يې د پاکستان په شمال او د هند د شمال غرب په څو سېموکې شتون لري.

پشه‌يان زمونږ د هېواد په ختيځو برخو د هندوکش د غرونو په جنوبي لمنو، د کابل سيند په شمالي سيمه د پيچ او کونړ د سيندونو د يو ځای کيدو سيمې څخه نيولې تر ګلبهاره پورې او په ځينو نورو کليو او ښارونو کې د خپلو پښتنو، تاجکو، نورستاني او نورو ورونو سره ګډه ژوند کوي. ددې څېړنې محور او اصلي موخه دا ده چې د پشه‌يي ژبې پيژندنې ترڅنګ ددې ژبې موجوده لهجې او د لهجو ترمنځ فونيميکي تفاوتونه ددې څېړنې ساحه

[1] د افغانستان د علومو اکاډمۍ، بشري علومو معاونيت، ژبو او ادبياتو مرکز، ورو‌ڼو قومونو ژبو او ادبياتو انستيتوت علمي غړی.

تشکیلوي. ترڅو چې تاریخي پشه‌یي ژبه، لهجې او د لهجو ترمنځ فونیمیکي توپیرونه لستونکو ته روښانه شي. څېړنې ډول کیفي کتابتوني ده له مختلفو چاپي او انلاین سرچینو څخه معلومات وړاندې د همدې څېړنو د پوښتنو په اساس راټول شوي دي. په سر کې د پشه‌یي ژبې پېژندنې شوي دي.

**د څېړنې میتود**

د دې څېړنې ډول کتابتوني دي او له تشریحي او تحلیلي میتودنو څخه پکې ګټه اخیستل شوې.

**د پشه‌یي ژبې پېژندنه**

پشه‌یي ژبه چې زمونږ د ګران هېواد افغانستان په ختیځو ولایتونو لکه د کاپیسا، لغمان، ننګرهار، کونړ او نورستان په ځینو ولسوالیو، سیمو او ښارونو ، د کابل ولایت د سروبي په ولسوالۍ او د کابل په ښار کې او هم د هېواد په ځینو نورو سیمو او په کلیو کې ویل کېږي، یوه ډېره پخوانۍ او لرغونې آریایي ژبه ده چې د پښتو او دري ژبو سره سره نږدې اړیکي لري.

پشه‌یي ژبه چې د اریک ژبو په کورنۍ کې د (داردیک) ژبو په مرکزي ډله کې راځي. د لمغاني، لغماني، دیګاني، دېګانو او په دې وروسته پېړۍ کې د نورستان د سیمې د نامه په اړوند نورستاني او نورو نومونو هم یاده شوې ده. د پوهندوی نورمحمد غمجن لیکنې پر بنسټ یوازې افغانستان کې(۳۵۰۰) کالو څخه را په دې خوا ویل کېږي( غمجن تمیل،۸۳)

د ځینو شواهدو او واقعیتونو څخه دا په ډاګه کېږي چې دغه ژبه له اوس څخه پخوا په پراخه سیمه کې ویل کېده او د سیمې له مهمو ژبو څخه وه. په دې هکله جورج مورګنسترین تر ټولو زیاتې څېړنې او لیکنې کړي او د (اندو ایرانین لنګویجز) په نامه د خپل کتاب دریم ټوک چې ۲۳۷ مخه لري او په ۱۹۶۷ میلادي کال په لومړیو کې چاپ شوي د پشه‌یي ژبې ګرامر ته ځانګړې کړې ده. نوموړی نامتو څېړونکی لیکي: « پشه‌یي د هغې لرغونې ژبې اوسنۍ بڼه او زېږنده ده چې د اسلام څخه ترمخه په هندو بدایي کاپیسا او لمپاکا (اوسني لغمان) کې ویل کیده ....»( کلماني،۱۵۷) د دایرة المعارف فارسي اول جلد په (۱۷۹ مخ) کې چې د غلام محسین مصاحب په سرپرستي لیکل شوی دی د افغانستان سره د تماس په ترڅ کې داسې راغلي دي:«عمده ترین قبایل هندو آریائی افغانستان قبیله‌ی پاشائی است که نام محلی آن دهګان است، و ساکن کوهستان کابل و دره‌ی سفلای کنار...»(غلام محسین مصاحب،۱۷۹) یعني د افغانستان له هندو آریایي قبایلو څخه تر ټولو مهمه قبیله پاشایي ده چې سیمه ییز نوم یې دهګان دی چې د کابل په کوهستان او د کونړ درې په لاندینو برخو کې میشت دي.

پشه‌یي خلک او ژبه یې د تاریخ په اوږدو کې په نورو بېلابېلو قومونو او نومونو هم یاد شوي دي لکه: الینایي، داردي، ګندهاري، لامګاني یا لمګاني، لغماني، دیګان او دېګاني، کوهستاني او نور... په همدې توګه ددې په خاطر چې اوس د نورستان نوم په همدې څه د پاسه یوې پېړۍ‌څخه را په دې خوا دود شوی دی، دغې سیمې ته

د ارتباط پربنسټ کله کله پشه‌يي خلکو او ژبې ته يې نورستانی هم  وايي،( کلماني،۶) حال دا چې اوس دا نوم چې د قوم او ژبې نوم دی يوازې کاتي، وامايي، وايګلي او پاروني خلکو ته منل شوی دی چې د نورستان په نامه د ولايت په زياتره برخه کې ژوند کوي.

د ښاغلی احمدجان ماڼو د ليکنې پر بنسټ هم پشه‌يي ژبه هغه آريايي يعني آريک ژبه ده چې نږدې (۴۰۰۰) کاله مخکې ژوندۍ وه او ختيځ پوهانو په (۱۴۰۰) قبل الميلاد کې مړه بللې او نورې لرغونې آريايی ژبې لکه سنسکرت، اوستا او زړه فارسي يې د هغې لونې ګڼلي دي. ښاغلي ماڼو د خپلو څېړنو پر بنا چې (په هندو اروپايي ژبو کې د پشه‌يي ژبې موقف) په نامه کتاب کې خپاره شوي، لرغونی (آريک) ژبه يې ژوندۍ او همدا اوسنۍ پشه‌يي يې لرغونې آريايي ژبه بللې ده. (کلماني۱۵۷)

همدرانګه که د بغستان د ډبر ليک دوه نيم زره کلن شعر او وياړنې ته: (نې اريکه آهم، نې درواجنه آهم ، نې زور کره آهم) چې د ايران د هخامنشي کورنۍ د يوه مشهور پاچا لوی داريوش په امر کېندل شوی دی (پښتو ادبياتو تاريخ لومړۍ ټوک ۲۹۰ مخ) که ځير شو دا په ډاګه څرګنديږي، چې د دغه آريايي شعر زياتره وييونه تر اوسه په پشه‌يي ژبه کې په هماغه بڼه خوندي شوي دي. لکه :

۱. نې يا نه  په ټولو کې مشترک دی او په پشه‌يي کې هم په همدې ډول کارول کيږي.

۲. اريکه په پشه‌يي کې د (اريک) يعنې اوريدل له مصدر څخه ده او دلته دا معنا لري چې ما د هر چا هر ډول خبره او شيطانت نه اوريده او خپله مې درک درلود.

۳. درواجنه که د درواغجن په معنا راشي دا هم په دغو ژبو کې مشترک لغت دی، خو په پشه‌يي کې دروا( پاتې ) او جن يا جنه کس يا نفر (سړي) ته هم وايي چې، يعني په دې معنا چې کوم وروسته پاتې او بې ارزښته سړی نه وم.

۴. (زورکره) په دې کې (زور) مشترکه کلمه ده او کره د کريک او کولو له مصدر څخه يو پشه‌يي لغت دی او د زور زياتي کوونکی معنا لري.

۵.(آهم) هغه تر ټولو پيژندل شوې ځانګړې پشه‌يي کلمه ده چې تر اوسه په پشه‌يانو کې په همدې ډول کارول کيږي چې د (وم) او (بودم) معنی لري دغه (آهم)کلمه د پشه‌يي ژبې په ځينو لهجو او ګړدودونو کې د آکم او آيم په بڼه هم اوښتې ده. په دې ډول ويلی شو چې دا يوه تر ټولو پخوانۍ پشه‌يي شعر دی.(کلماني ۱۶۳)
له بلې خوا د (ملنډا پينه) د کتاب په هکله د ښاغلي محمد پرويس شاهين ليکنه چې د ساپي نشراتي ارګان د (ورځ) مجلې د دوهم کال په دريمه ګڼه کې يې خپره کړې چې د هغې په يوه برخه کې راځي : « ... ددي په لومړي جلد کې ډېر د کار خبرې راوړل شوي دي. دا کتاب چيرته و؟ څنګه بيا موندلي شو؟ دا چيرته ليکل شوی و، دلته سيلون ته څنګه راوړل شو، ددې په څو ژبو کې ژباړل شوي دي، کومو کومو ملکونو ته وړل شوي

دي. دا یوه خبره یي ټولو عالمانو منلې ده چې کتاب د شمال غرب له لوري ( د هغه سیمې شمال غرب د افغانستان ختیځه برخه د پشه‌یانو میشت سیمه ده) را دمخه کړی شوی دی. بیا یو بل بدهي کتاب کې خو خبره دې ته هم را رسول شوې ده چې دا کتاب په پشایي ژبه لیکل شویدی. دا چې دغه پشایي ژبه د چا مورنی ژبه وه چې دغه یي له دې ځایه سیلون ته یوړله ... زه هم دې پسې ولګیدم په نورو ډېر بدهي کتابونو کې مې دغه د پشایي ژبې دا خبرې ولوستلې او ښه پوره مواد راسره جمع شول او بیا مې پالی او پښتو په نوم د کتاب لیکل شروع کړل ... » له دغو یادونو څخه دا جوتیږي چې پشه‌یي ژبه یوه ډېره پخوانی، د کتنې وړ او مهمه ژبه تیره شوې او لرغونې ادبیات لري. خپله دا د (ملنډا پینه) کتاب چې ډېر پخوانی او د میلاد څخه د مخه پیړیو ته رسیږي. په پشه‌یي کې (ملنډا وپیڑنه) معنا لري او کیدای شي چې همدا مفهوم او معنا هم ولري.( کلماني۱۵۸)

څرنګه چې وړاندې هم یادونه وشوه د دغه سیمې د هېوادونو نومونه هم یو پشه‌یي جوړښت لري چې ریښه یي آریایي ژبې ته رسیږي لکه افغانستان (د افغان ځای) تاجکستان (د تاجک ځای) هندوستان (د هندو ځای) ازبکستان او داسې نور چې تان په پشه‌یي او هم په آریایی ژبه کې ځای ته وایي لکه: پاتان(د پښو ایښودلو ځای)، پاړیک تان(د سرلیو،وزو ځایونه)، وچولېک تان(د هوسکی ځای). (س) یو روستاړی او نسبتي توری دی چې په پشه‌یي کې ډېر کارول کیږي لکه احمدس کتاب (د احمد کتاب) کونړس پندې ( د کونړ لاره) لغمانس مېوې (د لغمان مېوې) چې دغه ترکیب اوس په نورو سیمه‌ییزو ژبو کې نشته. او یا د شهنشاه کلمه چې دا هم یو پشه‌یي ترکیب او شاهنشاه یا شاهناشاه ( دشاهانو شاه) یوه لنډ شکل دی یعنې د مفرد په حالت کې د (س ) توری او د جمع په حالت کې د (نا) تورو په ور زیاتولو سره دا ډول ترکیبونه جوړیږي.

دادرستان یعني د داردیانو د هستوګنی ځای کوم چې د پامیر او هندوکش له جنوب شرق څخه د کابل شمال شرق سیمو(پروان،کاپیسا، لغمان،کونړونه، نورستان، ګلګت، چترال،کشمیر، قراقروم غرونه) پورې ټولې راځي. چې د بودیک او ګریکو بودیک عصرونو کې مهم مرکز کاپیسا په بګرام و(غمجن تمیل۸۶).

(دار) په پشه‌یي کې د (غره) څخه پرته لرګي ته هم وایي او په پښتو او دري کې هم کارول کیږي، لکه (په دارځړول) یا (به دار اویختن) چې کله کله په دري ژبه کې چوب اویختن هم ژباړل کیږي. دا ددې خبرې څرګندونه کوي چې دغه پشه‌یي ژبه یوه واکمنه ژبه هم تیره شوی ده، نو دا هم پر ځای ښکاري چې وایي پشه‌یي له پاشا، پاچا او پادشاه څخه اخیستل شوی نوم دی. ځکه ځینې بادشاه یا پاچاته پاشا وایي او داسې ویل کیږي چې ډېر پخوا د دغې سیمې پاشا (پادشاه) په همدې ژبی غږېده له همدې کبله بیا همدغه خلکو او ژبې ته د دغه پاشا (پاچا) په ارتباط پاشایي ویل شوې ده.

ظهیرالدین محمد بابر هم (۹۱۰هـ ق) کابل ته راغلی دی د کابل او د هغه شاوخوا بېلابېلو قومونو اوسیدونکو په باره کې یې په خپلو یادښتونو کې چې په بابر نامه یا توزک نامه سره شهرت لري،داسې لیکلي دي:

« کابل ولایت کې مختلف قومونه ډېره دي، په جلګو او میدانونو کې اتراک،ایماق او اعراب دي، ښار او ځینو کې تاجکان دي، او ځینې نورو ځایونو او ولایاتو کې پشه‌یي ، پراچې، تاجک، او ترک افغانان دي...» بابر پشه‌یي او لغماني ژبې د مختلفو ژبو په توګه راپېژني او د کابل په ژبو کې پشه‌یي او لغماني ژبې شاملې ګڼي.( شپون،۱۴)

او داسې ډېر نور شواهد او دلایل هم شته چې د پشه‌یي ژبې د لرغونتیا، پراختیا او ارزښت څرګندونه کوي لکه: د پشه‌یي په نامه د ډېرو ځایونو، سیمو او کلیو نومونه او هم هغه نومونه چې په پشه‌یي په ژبه دي، خو په وروسته پیړیو کې پشه‌یي ژبه له پامه غورځېدلې او ادبیات یې یوازې په شفاهي توګه په پشه‌یي اولس کې خوندي دي.

**د پشه‌یانو نفوس**

د پشه‌یانو د نفوس په هکله دقیق معلومات وړاندې کول یو ستونزمن کار دی، بیا هم د حقیقت انقلاب ثور ورځپاڼې د (۲۲۰) ګڼې په دویم مخ کې د « نگاهی به زنده‌گی ملیت پشه‌یی» تر سرلیک لاندې مطلب کې تر نیم ملیونو زیات ښودل شوي دي.( شپون،۱۶) د پشه‌یي ژبې د (پشیس الیپبا کیتبي) نومي اثر چې په ۲۰۰۳ میلادي کال کې چاپ شوی دی، ددې اثر په سریزه کې د دره نور د ټولیزې پرمختیایي پروژې مسؤل جوهونګ یون وایي چې پشه‌یي ژبه چې دوه زره کاله تاریخ لري او تقریبا (۴۰۰۰۰۰) یا څلور سوه زره خلک په دې ژبه خبرې کوي.( ج.یون، ۲)

پشه‌یانو د نفوس په هکله چې لږ تر لږه تر یو میلیون څخه زیات وګړي به ولري(کلماني،۱۵) دقیق لکه څرنګه چې مو مخکې وویل، چې دقیق معلومات ترلاسه کیدای نه شي، ځکه یو خو د وخت په تیریدو ځینی پشه‌یان په تیره په سمو سیمو کې خپله ژبه پریږدي او پر ځای یې پښتو او دري ژبو ته چې زموږ د هېواد لویې او رسمي ژبې دي مخه کوي او بل دا چې د مخه وړو قومونو او توکمونو په تیره پشه‌یي ته هیڅ پاملرنه نه وه شوې او په قومي لحاظ د پښتنو او تاجکو تر منځ ویشل شوي او یاد کوشتاني او دیګان په نومونو یاد شوي وو، خو سره له دې هم د دوی نفوس په ځینو اسنادو کې ډېر پخوا سل زره، یو سلو شل زره او دوه سوه زره او په وروسته وختونو کې شپږ سوه زرو څخه زیات ښودل شوي دي خو په رسمي احصائیو کې د دوی د ژبې او نفوس اندازه ډېره کمه ښودل شوې ده، دا ځکه چې داحصائیې د مرکزي ادارې د ۱۳۶۴ کال د (اطلس محلات افغانستان) په نوم کتابونو کې ډېر پشه‌یي ویونکي کلي، په پښتو او دري ژبوویونکي معرفي شوي دي ، د ننګرهار کوزکونړ د ولسوالۍ خلک چې اکثریت یې پشه‌یي ژبه وایي پښتو ژبه ویونکي ښودل شوي دي.( فرحان،۲۳)

**د پشه‌يي ژبې لهجې**

پشه‌يي ژبه څو بيلا بيلو لهجو څخه جوړه شوې ده. د (آريانا دايرة المعارف دويم ټوک.۴۴۸مخ) په حواله، د دوی جغرافيه يي ساحه د نورستان د وايګل له ختيځ نه د کاپيسا ګلبهار تر لويديځ پورې ښودل شوي، او په دې لويه سيمه کې خلك په پشه‌يي ژبه خبرې کوي او مرکزونه يې کونړ، ننګرهار،لغمان، او کاپيسا دي. پشه‌يي ژبه خپل جغرافيوي موقيعت د تثبيت له مخې په پنځو لهجو ويشل شوې ده چې لاندې ډول دي:

١- د کوهستان او بولغين لهجه

٢- د اوزبين درې لهجه(اليشنګ او دولت شاه)

٣- د تګاب او نجراب لهجه

۴ـ د لغمان، الينګار، کونړ او دپيچ درې لهجه

۵- ديګانو يا چوګني لهجه

پورته څلور لهجې په آريانا دايرة المعارف کې او (الفبای زبان پشه‌يي) نومي اثر کې هم راغلي خو ورستی لهجه چې لومړی لهجې سره راځي د« د افغانستان ژبې او توکمونه» کې د يګانی لهجو ياودنه کړې ده، چې دا خبره د افغانستان د علومو اکاډمي علمي غړی عبدالمالك لاموال په ليکنو کې او د «پشه‌يي افغانان» نومي اثر چې ليکوال يې محمد زمان کلمانی دی، د پشه‌يي ژبې پنځمه لهجه د ديګانو او چوګني په نامه ياد کړې ده. پورته پنځه لهجې او سيمې په لاندې ډول دي.

**١-الينګار، کونړ، دره نور درې لهجه:**

چې د لغمان الينګار، کونړ، دره نور او پيچ درې د لهجې په نامه هم يادېږي. د لغمان په مرکز، الينګار، قرغه‌يي او نور سيمو کې او همدارنګه د ننګرهار د ښېوې(کوزکونړ)، دره نور په ولسواليو، د کنړ نورګل، پيچ درې او چپې درې په ولسواليو او سيمو کې او هم د نورستان د مليل او مشپه خلك د پشه‌يي ژبې په همدې لهجه خبرې کوي.

**٢- د اوزبين لهجه**(د لغمان لويديځ او اليشنګ د درې لهجه)

. دغه لهجه د لغمان په اليشنګ او دولت شاه، د نورستان په ننګراج او دوآب، د کابل د سروبي ولسوالي په اوزبين درې خلك پرې خبرې کوي. د پشه‌يي ژبې دغه لهجه د اليشنګ او دولت شاه لهجې په نامه هم يادېږي.

**٣- تګاب او نجراب لهجه**:

دا لهجه چې د کاپيسا ولايت د اله سای، تګاب او نجراب په ولسواليو پشه‌يان پرې خبرې کوي، د تګاب او نجراب لهجه په نامه يادېږي.

**۴- کوهستان او بولغين(شمال لويديځه)**

کو هستان او بولغین، د ګلبهار او ستل او یا د شمال لویدیځې لهجې په نامه هم یادیږي. د کاپیسا کوهستان او بولغین ولسوالیوو په غرنیو سیمو او هم د نجراب د یو شمېر سیمو اوسیدونکي په همدغه لهجه خبرې کوي. که څه هم دغه لهجه د دري ژبې تر اغیز لاندې راغلې، خو بیا هم له دویمې لهجې سره یو څه نږدې او ورته والی لري.( کلماني،۱۷۲)

**۵- دیګانو یا چوګني لهجه:**

دغه لهجه د پنځمې لهجې په نامه یادیږي چې د دیګانو ژبې ګروپ یا د د چوګني لهجې په نامه هم یادیږي. د کنړ ولایت په اریت، شوماشټ(شوماش)، وامه ګل، چلس ،کوړنګل، کوردر او د پیچ درې په ځینو درو او کلیو کې ورباندې خبرې کوي او هم د ننګرهار د دره نور ولسوالي د شېمل قریي خلك پرې خبرې کوي.

**پشه‌يي ژبې په لهجو کې ځینې فونیمیکي توپیرونه**

**الف: فونیم(لْ=λ)**

دا په پشه‌يي ژبې په جنوب ختیځه لهجې ځانګړی غږ دی[2]. د ادا کیدو په وخت کې ژبه مخ پورته اوښتې شکل غوره کوي او د پاسنی ژامې د وریو له بېخونو سره ژبه تماس پیدا کوي او هوا د ژبې له دواړو اړخونو څخه په ټاکلې اندازه د خولې له جوف څخه د سږو په فشار راوځې چې د دې اواز د ادا کېدو عملیه ترسره کیږي. د پشه‌يي ژبې اکثر ویونکي په اصلي بڼې سره تفلظ کوي. خو د اوزبین په لهجه کې په (تر) او یا(ش/ښ[3]) په بڼه تلفظ کوي

لْوند λund= شوند š/ṣ und

لْنګالي λngāli= شنګالي š/ṣ ngāli

د تګاب او نجراب په لهجه کې په (تر) او یا (ل) په بڼه اود شتل او ګلبهار لهجه کې د (ک) په بڼه تلفظ کوي.(الفبای زبان پشه‌يي،۱۳۶۷)

لْوند λund= لوند lund (بام)

لْنګالي λngāli=لونګالي lungāli یا کنګالي kngāli (توت)

لْې λe=ترای trāy(درې)

لْام λām= لام lām/ کړوم kṛūm(کار)

---

[2] د اریک ژبو په کورنی کې د داردي ژبو په مرکزي څانګې په ژبو کې هم لیدل کیږي لکه: ګوري ژبه او داسې نور...

[3] د پښتو کندهاري لهجې د(ښ) په څیر سخته ویل کیږي.

**ب: واول (ا=ā)**

واول (ا=ā) د اوزبین اوکوهستان(شتل او ګلبهار) په لهجه کې د (ۉ=O) په ډول تلفظ کوي

ګوړا gūṛā=ګوړو gūṛo (آس)

ګوراوال gurawāl=ګوروول gurwol (واده)

نونګا nungā=نونګو nungo (نوی)

ابارا obarā=ابارو obaro (لوړ)

ڵام λam=کړوم kṛom (کار)

اښپاړ[4] aṣpāṛ = اښپوړ[5] aṡpūṛ (وریجې/برنج)

**ج: واول(و ū)**

پشه يي کې په ځينو لهجو کې واول(و ū) په واول(ي i) او يا واول(ي i) په واول(و ū) سره اوړي،لکه:

اښتو aṣtū=اښتي aṡti(اتلس)

آرو ārū=آري āri(شفتالو)

بالکيل bagkil=بالکول balkūl(ماشوم)

پچي pči=پښو pṣū(پښتی)

ديم dim = دوم dūm(دود/لوګی)

ژو ẑū = ژي ẑi(سپږه)

**د: کانسونټ (ښ/ṣ )،(ښ ṡ)**

دغه کلمې چې د د لغمان په دولت شاه او اليشنګ کې د (ښ=ṣ) د اوزبين په لهجه کې کندهارۍ لهجې(ښ) په شان سخته ويل کيږي. او د کاپيسا په اله سای ولسوالي کې د (ښ ṣ) دپښتو ژبې مرکزي لهجې(ښ) په ښير تلفظ کوي ددې لپاره چې د دواړو غږونو ترمنځ تفکيک وکړو نو د پښتو کندهارۍ لهجې (ښ) ته د (ṡ) ګرافيم فونيميک بڼې سره ښودنه کوو، چې بېلګې په لاندې ډول دي.

اښټ aṣt =اښټ aṡt (اته)

اښتي aṣt= اښتي aṡti (اتلس)

ښياو ṣiāū=ښياو ṡiāū (د غنمو وږی)

پوښ pūṣ=پوښ pūṡ(نباتي سره/پارو)

---

[4]د کاپيسا اله سای ولسوالي کې پښتو ژبې مرکزي لهجې د(ښ) په شان ښير تلفظ کيږي.

[5]د اوزبين په لهجه کې د پښتو ژبې د کندهارۍ لهجې(ښ) په ښير سخته دی.

مښتي muṡti=muṣti مښتي (سوک /مشت)

اسپوړ aṡpāṛ=aṣpūṛ اښپاړ (وريجې /برنج)

کښني kṡni=kṣni کښني (قلبه)

**ایله**

دا چې پشه‌يي د يو قوم او افغاني ژبې نوم دی او دغه نوم د تاريخي کتابونو کې بهاشه،پيشاچه، پيشاوي ....، پشه‌يي او په نورو بڼو راغلې دی. پشه‌يي ژبې ويونکي زمونږ د ګران هېواد په ختيځو برخو د هندوکش د غرونو په لمنو، د کابل ختيځ، پروان، کاپيسا، بدخشان، لغمان،ننګرهار،کونړ،نورستان او په ځينو نورو کليو او ښارونو کې د خپلو پښتنو، تاجکو، نورستاني او نورو وروڼو ترڅنګ او آن په ګډه سره ژوند کوي. چې د لرغوني بلخ څخه د لومړنۍ کوچيدنې څخه وروسته له پيړيو پيړيو څخه را په دې خوا په همدغه اوسنۍ سمسوره سيمه کې اوسيدلې، د تاريخ په پاڼو کې داسې شېبې نه شو موندلای چې پشه‌يي ولس له خپلې موجوده ښکلی شاعرانه غرني ټاټوبي څخه جلا وښيي. دغه ژبه په خپل ځان کې ډېرې لهجې لري، خو په عمومي توګه په پنځو لهجو ويشل شويده چې د هرې لهجې په اړه معلومات وړاندې شول، او هم د لهجو ترمنځ فونيميکي تفاوتونه په روښانه شول ترڅو لوستونکي د پشه‌يي ژبې د لهجې تفاوتو باندې پوه شي.

**ماخذونه**


1. ځدراڼ،محمد شريف.(۱۴۰۲ ل).په ننګرهار کې غير پښتني قومونه.چهار دهي صنعتي مطبعه،کابل
2. ځدراڼ،محمد شريف.(۱۴۰۲ ل).د افغان ملت پېژندنه.چهار دهي صنعتي مطبعه،کابل
3. دوست،دوست محمد.د افغانستان ژبې او توکمونه.چاپ کال:۱۳۵۴ ل.پښتو ټولنه، دولتي مطبعه
4. سرپرستي غلام محسين مصاحب. دايرة المعارف فارسي،جلد اول.۱۷۹مخ
5. شپون ، څېړنيار وجيه الله. د پښتو او پشه ياتو د شفاهي ادبياتو ځينې ورته بيلګې. د علومو اکاډمي. ۱۳۸۸ل
6. غمجن، نور محمد. د پوهندوی نورمحمد غمجن تميل د مقالو ټولګه. د بيهقي کتاب خپرولو رياست، چاپ کال/۱۴۰۰ هـ ش.
7. غمجن، نورمحمد. د پښتو او پشه‌يي ژبې ګرامري نژديوالی. خپرندويه د افغانستان علومو اکاډمي، اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست. چاپ کال/ ۱۳۹۹ هـ ش.
8. غمجن، نورمحمد.پشه‌يي- پښتو قاموس. خپرندويه مؤسسه، د بيهقي کتاب خپرولو رياست. چاپ کال/۱۳۹۹هـ ش.
9. فرحان،فريدالله.د پښتو او پشه‌يي ژبو متلونو پرتليزه څېړنه.ليکلو نېټه:۱۳۹۸ ل. ناچاپ

10. کلماني،محمد زمان. پشه‌يي يکی از اقوام و زبانهای افغانستان. مطبعه مسلکی افغان. چاپ کال،۱۳۹۶ل، کابل

11. کلماني،محمدزمان. پشه‌يي افغانان. د بیهقي کتاب خپرولو موسسه.ازادي(دولتي) مطبعه. ۱۳۸۹هـ ش

12. لاموال،عبدالمالك.په پشه‌يانو کې لاسي کارونه.علومو اکاډمي،نشراتو رياست.چاپ کال ۱۳۹۳ ل. بهير مطبعه، کابل

13. هلالي،عبدالحکيم و ديگران.الفبای زبان پشه‌يي، د افغانستان د علومو اکاډمی، د ژبو ادبیاتو مرکز. چاپ کال/۱۳۶۷هـ ش، کابل

14. یون، جوهونګ. پشیس الپبا کیتبې. (۲۰۰۵م).خپرونکی اداره؛ سرپ افغانستان مؤسسه، دره نور(DIN)پروژه. جلال اباد